**لیکونکی :جوشیواکوو(Joshua  Cho)**


**منبع او دخپریدو نیټه : ګلوبا ل ریسرچ« 30-12-2019»**

**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م « مل » .**

**[3]----------------------------------------------------**

# دا فغا نستا ن واشنګټن پوست مقا لي داصلی استعما ر نا سم نیا تو استعما ری روایت تبلیغ کوي

***Washington post's Afghanistan papers propagate colonial narrative of nobal intention gon awry***



ما په یوه پخوا نـي مقا له (FAIR .org , 18-12-2019) کي د ا فغا نستا ن واشنګټن پوست د مقا لوپه اړین په دی برخه کی بحث اویوڅه څرګندونه کړي وه ، اوهغه داچي دواشنګټن پوست افشا ګری ، څرنګه پخپله واشنګتن پوست د متحده ایالاتو د چارواکو پواسطه سره دهغود دروغو دویلو لپا ره د یولمړنـی لیږدونکی وسیلی په بڼه پکا ر وړل کیږي ا و بیا ولی غیرممکن دی چي سا زما نـی رسنی لکه واشنګن پو ست وشی کړلي د ا مریکی د متحده ایالاتو د بهرنـی پا لیسی دغولونکي ماهیت په اړین یو لړ سوالونه را پورته کړي .

مګر دا یوا ځی د پا ملرنـی وړ ا و ډاګیزی خنډ ونه نه دي ، بلکه د ا فغا نستا ن مقا لی هم با ید د معا صر استعما رد تبلیغا تو دیوه غوره قضیی په بڼه وګڼل شی اویا تر مطالعی لاندی ونیول شی . اودا د شرکتی رسنیو یوه بله نمونه دی کوم چي د متحده ایالاتو جنګونه یی، بی له دی چي

دامریکی امپریالیزم سره خپل مخا لفت وښیی ترنیوکی اوبرسی لاندی قرار ورکوی.
**ادوارد هرمان** (Edward Herman)او **نوام چامسکي** (Noam Chomskey) دویتنا م دجګړی د رسنیو د پوښښ دوه مشهور څیړونکو په جوړیدونکي موافقه کي وموندله چې دتهاجم اویا دبرید **« تاکتیکونو او لګښتونو»** څخه بیا تر د متحده ایالاتو پوري پوښتني پر دی بحث باندی حاکم اویا مسلط وه .اوداځکه چي رسني د نظا می مداخلي دارتیا په اړه دحکومتی تبلیغا تود چو کا ټ د جذ بولو په لټه کي وی اودامریکی د متحده ایالاتو د**«عدالت خواهي»** علت اوهم د هغه هیواد د **«نجا بت نیت»** څولسیزی وروسته د**هرمن** اود **نوام چامسکی** دتبلیغا تو په یوه نمونه واوریدل کوم چي اوس هم د هغوی د تبلیغا تو نمونه دسا زما نی رسنیو د تبلیغا تی نمونی په بڼه مهم اوګټور ابزار دا فغا نستا ن دمقا لو لپا ره دي .
واشنګټن پوست د پیړیو ، پیړیو د پخواني د ا ستعما ری روایت کوم چي دامپرا توری له ښو اهدا فو څخه شمیرل کیږی هغه ته وده ورکړ ، اوهغه دا چي دا سی یي استدلال وکړ چي متحده ایالات په ناڅا پی ډول یو فا سد ، بی معنی ا فغا ن حکومت رامینځته کړ اودا یي په ډاګه کړ چي «حتی ، ځنی خورا ښی اراده لرونکي پروژی د خپل د پیل ا ولنی حا لت ته د بیا راګرځید نی په حا ل وده کولی شی » ، په حقیقت کي واشنګټن پوست دا فغا نستا ن د مقا لو بشپړه برخه د دی معیا ری استعما ری داستا ن خپرولو ته وقف کړي ، چي د« بی له استا ندارد ستراتیژی » په نامه سره یا ده کړی کوم چی له اوږدی مودی څخه استدلال کول .
متحده ایالاتو اودهغه د نژدی متحد ینو چا رواکو اعتراف وکړچي دوی په دی بریا لي شوی چي هغه لارو ته تغیر جهت ورکړي کوم چي دالقاعدی اویا د سپټا مبر د ( یولسم ) نیټی سره څه ارتبا ط نه درلود ، هغوی د خپل ما موریت په پراخولو سره وویل : چي هغوی ګڼ جنګي استراتیژی چي د نقص اوعیب سره یوځای وه د غلط پیش فرض پراسا س د یو هیواد په مورد کي چي هغوی نه وه پوه غوره کړ ی وه.
ډ یپلوما تا ن او نظامي قوماندانانو دا منلې چې دوی د ساده پوښتنو د ځواب لپاره مبارزه کوي: دښمن څوک دی؟ موږ پر چا د متحد ینو په توګه حساب کولی شو؟ موږ به څنګه پوه شو کله چې موږ بریا لي شو؟
د دوی ستراتیژیو سره توپیر درلود ، مګر( بوش ) او ( اوبا ما ) دواړه د لومړیو غلطیو ژمنه وکړه چې د مرکو پراسا س دوی هیڅکله هم روغ جوړه یادچا سره جوړ جاړی نه وه کړي .
دواشنګټن پوست څو برابره ډیر زیا ت لیوالتیا لري چي داستعمار دغه روایت د شریفانه بی کفا یتی ترفشا رلاندی وغځوی اوهغه هم په دی توګه چي وروستي راپور (12-11-2019)

دا فغا نستا ن د مقا لو د «مهمو لاسته راوړنو= key takeaway » په اړه ادعا وکړ چې امریکا یی چا رواکي ونتوانید ل د هغو ستونزو سره چې دوی ورسره مخامخ وه هغه ستونزو ته د حل لاره پید ا کړي لکه همغسی چی مخکي هم هغه ته اشا ره شوی وه نو د دی تفاهم کولو یوه طریقه یا د دی تکلو یا د روشونو تشخیص چې آ یا امریکا یي مقا ما ت نالایق اویا ناسزا دی ، بی کفا یته نه دي؟ د ا داسی په ګوته کوي چي آ یا په یو بل هیواد د یرغل ا و نیواک لپا ره پلمی په دوامداره توګه د بد لو ن په حال کی وی ؟

مګرد متحده ایالاتودجنګونو په اړه د لګښت ، ګټی یا تاکتیکی باندي ( نیوکي) دامپریا لیستی ا بزار ګټورمفهوم دا دي چي دا فغا نستا ن د جنګ په څیر غیر اخلاقی اوغیر قا نوني یرغلونه د توجیه وړبولی که چیری امریکا وکولی شي خپلی موخي تر لاسه کړي ، کوم چي داپخپله بیا راتلونکي یرغلونه چمتو کوي اما په دي شرط چی دمتحده ایالاتو جنګونه غوره اوسی چي دبل ځل لپاره وجنګیږي کوم چي دا پخپله یو بد اونا وړه معیا ر دي ، ځکه چي دهري پوځی هڅی لپاره تل تاکتیکي لګښت اود ګټی پو ښتنی را پورته کیږي ، نو په همدی دلیل سره دا ډول نیوکي (انتقاد) کولای شي چي دامریکی د متحده ایالاتو لپا ره د تلپا تي مداخلي لاره اواره کړي ، نو په حقیقت کي واشنګټن پوست دغه مسله چي له هغه څخه یادونه کوي دامنی چي په افغانستان کي دعمومی مفتش (پټي پروژي) د درسونو دزده کړي پروژی د نه بریا لیتوب د سیا ست د تشخیص په مفهوم وه ، کوم چي متحده ایالات په راتلونکي وخت کي هغه غلطی بیا له سره تکرار نکړي کله چي پریوبل هیواد باندی یرغل وړي یا دهغه وران شوی هیواد په بیا رغوني پروژو کي ورته ا شتباها ت ونکړي.

سربیره پر دي واشنګټن پوست دامریکی دلوړ پوړی چا رواکو اظهارات او وینا وي په وار وار وړاندي کړي چي د« درسونو دزده کړي » دځنی برخو څخه دهغو د ستراتیژیکی خرا بیو او ناکا میو موضوع دا وه چي متحده ایالات باید په پاکستان کي ډیر خلک وژلی وه اوهغوی په نا محد وده توګه سره خلک ګوا ښلی وایي چي په ا فغا نستا ن کي پا تي شی بی له دی چي بیرته را واوړي .

واشنګټن پوست په طوطي وار بنی سره ادعا کړ چي د (اوباما) ستراتیژی د سختی نیتی تحمیلول وه چي د خپل اولسمشری تر پا یه پوري دامریکي ټول سرتیري به را وبا سي کوم چی د نا کا مید و برخلیک دي ، ځکه چي طا لبا نو یوائی د هغه انتظا ر با سي .، پس نو بیا ولي « اوباما» په ساختګي یا جعلی ډول خپل ژمنی دجګړی د پا ی ته رسولو څخه د جګړی د نه ختمید وڅخه لا د مخه ما ت کړ؟ نوکه چیری متحده ایالات واقعاً دامریکي د ما لیه ورکونکو

ډالر، يي اود متحده ايالاتو د سرتيرو اود ا فغا نا نو د سا تنې او د ژوندي پا تې کيدو ته لمړيتوب ورکړای واي دا سی نه را ښيښيد ل ؟ ا ما په دي مورد کي ښکا ره راز دا دي چي متحده ايا لات اوس هم کولای شي چي له ا فغا نستا ن څخه د خپل د ځواکونو د وتلو جريان بی له کوم قيد وشرط ، يو اړخيز ا و بی له دی چي د طا لبا نو سره مذاکره وکړي اعلام اوپه آ سا نې سره دغه جنګ په ا فغا نستا ن کی ودروي .

## دا فغا نستا ن مقا لي په ناڅا پی ډول د رسمي دروغيو په خپرولو کي د واپو (wapo) رول مستند کوي .

د « درسونو له زده کړي » څخه يوبل مصاحبه کي چي په (12-9-2019) نيټه دا فغا نستا ن په مقا لو کي خپره شوی ،هغه د پاکستان د «ستراتيژيک چلنج » په اړه دي چی د طا لبا نو څخه ملاتړ کوی ، د هغو مشرانو ته پخپل خاوره کي پناه ورکړي کوم چي هر کا ل دترهګری سره د ضد مبارزی تر نا مه په مليار‌دونه دلار تر لاسه کوي ، واشنګټن پوست په غير مشروع اوپه غير انتقا دی برخورد سره د يو امريکايی مقا م خونړي ملاتړ دنا محدود اشغا ل اوپه پاکستان کي هرچيری د طا لب غړو د وژلو لپا ره اشا ره کوي .

کروکر (Croker) د د سمبر ميا شت کا ل (2016) کی د مرکو د درسونو څخه د خپل زده کړی له مخي ويل : چي (ترامپ ) ته يواځنی لار دا دي چي پاکستان مجبور کړي چي خپل چلند ته تغير ورکړي هغه دا چی امريکايي سرتيری په نامحدود شميره سره په افغانستان کي ځای پر ځای وسا تي اود پا کستا ن د خاوري په د ننه کي د طا لبا نو د ښکا ر کولو لپا ره خپل سا تلی سرتيرو ته ځراغ شين کړي .

کوم چي دا به هغه ته اجا زه ورکړي چی ووايی :تا سومونږ ته د با ور په اړه اند ښينه لري ؟ تاسو له ا فغا نستا ن څخه زمونږ دوتلو اند ښينه لري؟ زه دلته تا سو ته وايم چي زه تر هغه وخته پوری خپل سرتيری سا تم تر هغه چی زه د سرتيرو د شتون د ضرورت احسا س لرم بی له دی چی تقويم او يا زما نی جد ول ته ضرورت وی .

دا ښه خبر دي ، اما ستا سو لپا ره بد خبر دادي چي مونږ غواړو دطالبانو مشران چي هر چيری پيدا کړو ووژنو کوم چی دا ځايونه که بلوچستان ، پنجاب يا داسلام آباد په دننه کي وی ........ نوله دی امله شا يد چي تا سو وغواړي چی يوستراتيژی ته بيا کتنه تر سره کړي .

په عين وخت کي داستعما ری روايت د فشا ر په اچولو سره ، واشنګټن پوست په حقيقت کي هڅه کوي چي يو بی ا سا س ا و تشه دوسيه رامينځته کړي ا و ووايي چي د متحده ايالاتو

د ستراتیژیو دځنو برخو ما تی اویا سرته نه رسیدل دا فغا نا نو لپا ره دامریکي د سخاوتمندی له ا مله رامینځته شوي دي او د متحده ایالاتو عامه خلکو ته له دی نه چي «ملت جوړونـي » نه غواړی دروغ ویلی یا چی د نه ملت جوړونـی ترسره کیږ و ادعا کوی اوهغه داچی خپله «ملت جوړونـي» دقیقاً همغه کار دي چي متحده ایالات هڅه کړي په جنګ ځپلی ا فغا نستا ن کي په لوړ او لوی مقیا س سره هغه ترسره کړي .
امریکایانو دخپل ځوانمردی او د سخاوتمندی تعریف کوی یعنی دهغه سخا وتمندی چي دهغه ریښی دامریکي د راوتلی دودیزی استعماری چلند پوری تعلق نیسي چي یوه استعماری ځا نګړتیا دي کوم چي دهغه ما حا صل د برده داری (غلامی) د بی سا ری ظلمونو د پلی کولو ، دبومی امریکایا نوبی ځا یه کید نه اود ویتنا م د خلکو نا بودی وه او واشنګـن پوست په طوطی وار بنی سره دامریکی دغه اوږد دود ته لمن وهلی او دامریکی دمتحده ایالاتو دلوړ پوړو مقا ما تو دغه باور کوم چي کنګرس او سپینی ما نی هغه بی وزلی هیواد ته چي زیا تـي پیسی ور د ننه کړی نظر ودی ته چی له هغه هیواد څخه پیسی ترلاسه کړی کا رونه خراب اویجا ړ کړي دي ، اما ظاهراً ستونزه دا نه وه چی امریکا په قصدی ډول پیسي دامریکا یی پا نګوالانو د لا بډاینی اود خپل لاسپوڅی دولتونو د ټیکا و اود پرمختګ لپا ره پکا ر وړي ، بلکه متحده ایالات په بی ملاحظګي یا په بی فکری سره په خیریه امورو کی راښکیل دي .
د جګړي په سا حه کی د فساد کچه دپلان د نه لرلو اوهم د د فاعی قراداد یا نو سره د پیسو زیا ته مرستی له هغه څه څخه زیا ت وه چی بی وزله ا فغا نستا ن کړلی شوهغه جذ ب کړي نو د مرکه کونکو په وینا د ا مریکی ما لیه ورکونکي لخوا چی پیسی تامین کیده دفسا د اود بډی اخیستو فرصت بی حد اومرز وه.
واشنګټن پوست په (12.9.2019) ادعا کړ ، چي ا فغا نستا ن د کا ل (1979) داوږدي مودی جګړی څخه وروسته کله چي شوروی اتحا د پر دغه هیواد با ند ي یرغل وکړ ، هیڅ دا سي یو بل هیواد لکه د ا فغا نستا ن په څیرجوړونـی اویا رغونـي ته احتیا ج نه لرل . واشنګټن پوست د متحده ایالاتو دنړیوال پرمختیا یی اداری (USAID) ا و د دموکراسي لپا ره د ملي ودي د موسسی ( NED=National Endowment for democracy ) د کارکونکو اویا دمشاغلو نا هیلی اظهاراتو ته په اشا ری سره دهغو شکا یتونه داسي څیړي : چی متحده ایالات په لویه کچه د یو لمړنی یا د بدوی خلکو لپا ره په (ملت جوړوني ) کي زیا ت پیسی لګوی یا چی ضا یع کوی کوم چی دغه خلک د یو اجتماعی با زار نه لرونکی خلک دی چي د ا سعا رو دراکړي ورکړي په عوض د « اجناسو تبا د له دبا رتر ) په شکل ترسره کوي اوهم د لویو زیربنا یي

پروژو د مخکی وړلو اودهغه حفظ مراقبت مها رت او ځا نګړي تخصص هم نه لری ، زمونږ چارواکي په دی(یویشتم پیړي) کی دا سی شیا ن دی ډول ټولني ته راوړل چي په متفاوت زما نی دوره کی ژوند کوي .

په کا ل (1979) کی دامریکی د متحده ایالاتو هڅی دا فغا نستا ن دبومی (وطني) کمونیستی غورځنګ د تخریب اوسبوتا ژ لپاره بی ځایه نه وه کوم چي امریکا د خپل ښکا ره لاس رسي په لوری لکه دانجنو تعلیم ، د تریا کو دتولید له مینځه وړو اود روغتیا یی خدماتو ته د پراخ لاس رسي موضوعات دپوها وی دزیا ت احتما ل پر بنیا د په دی هڅه کی وشو چي د روسانو پښیی دویتنا م دجګړی دغچ اخیستوپه بد ل کي دا فغا نستا ن په لومه کي راښکیل کړي[ ( دکارتر دملی امنیت سلا کار «**زبګنیو برژنسکي**» ) کوم چي وروسته ددی احمقانه تګلاره څخه د فاع وکړ وویل دا دیو « پټ عملیات» یو غوره نظریه وه چی روسا ن دا فغا نستا ن په باتلاق کی راښکیل شو اوتا سی اوس له ما څخه غواړي چی زه له خپل دغه عمل څخه پیښیما نه شم .]

دامریکي د متحده ایالاتو دنړیوال پرمختیا یی اداری (USAID) ا ود د موکراسي لپا ره د ملی ودي موسسه (NED) کوم چي د ا مریکی د با ند نیو چا رو د وزارت د کینڼ اړخو( دست چپی) دولتونو درا نسکورولو لپا ره یوه تبلیغا تي اسحله یا مراجع دي هغه ته هیڅ نه دی اشا ره شوی. چي اکثراُ د « پراختیا » اود « د موکرا سي » د هڅولو په پلمه د پا نګوالو جیبونو ته دامریکا دما لیه ورکونکو د **ډا لرو** پا یپ لین ورغورځیږی یا ور سرازیر کیږي ورته پا م شي. دامریکایی چارواکوځنی مقامونه حتی ادعاوکړل،چي پراخه درغلي اوپیمانکارانوته د«مرستي » ضایعات دومره پرازیتي شوی دی چی لازم ګڼل کیږی یا داچه دا به غوره وي چی د افغانانو د فا سد کولو لپا ره قراردادونه هغوی ته ور وسپارل شي کوم چي هغوی ددی قراردادونو نه(20) سلنه خپل ځا ن ، خپل کورني او خپل دوستا نو ته ورولیږدوی ، ترڅو چي دامریکایي د ګران قیمتو متخصیصونو له منګلو څخه خلاص شو کوم چی د بود جي ( 80 ) تر (90) سلنه پوری هریو د خپل ځا ن په ګټه په مصرف رسوي .

دواشنګټن پوست دهڅواو اند سره سره چي د متحده ایالاتو د انځور په را ایستلو سره کوم چي د یو (ناخوا سته) فا سد ، بی کاره ا فغا ن حکومت جوړونه وه یعنی د هغسی یو حکومت چي د هغه بقا د ا مریکي د نظا می ځواک د ملاتړ پوری تعلق نیسي – نو دابه ګرا نه یا ستونزمن اوسی ، چي دمتحده ایالاتو پوځ او ځنی اجنسیی (نمایند ګي) لکه د (سی آ ی ای) سا زمان په ځیر اداریی لپا ره د ا فغا نستا ن د دولت د چا رواکو ، مذهبی رهبرانو ، جنګ سالارانو چی اکثر ا فغا نا ن هغو ته ظا لم او مستبد وایي دهغو دوفا داری د پیرودلو لپاره د نقدی بودجه

تخصیص چمتو کړل شي کوم چي ددی ادعا سره کوم اختلاف یا مغایرت نه ترسترگو کیږي نو په حقیقت کي د **هرما ن** (Herman) او **نوام جامسکي** (Noam Chomskey) مطا لعی دواشنگټن اود دریم نړیوال فا شیسم سره په ا رتبا ط کی موند لي چي ا داری فسا د د متحده ایالاتو په مشتری او ترلاس لاندي هیوادونو کي یو له خاص اصلی ځانګړتیاو څخه دی لکه د ا فغا نستا ن په څیر فا سد حکومت چي د متحده ایالاتو د مرستي اودبا ند نی سرمایه ګذاری لپاره مطلوب شرایط د بشر د حقونو سره منفی ارتبا ط لري نوله همدی امله دافغانستان ډ یري راپورونه د «سوداګري » لپا ره چمتو والي را ښیی .

دامریکي د متحده ایالاتو رسمي مقا ما ت د ا فغا نستا ن په مقالاتو کي یا دونه کوي چي د ا مریکی مسولو چا رواکو هغه خلک چي په جد ي توګه د فساد سره په مخا لفت کی مبارزه کول هغه خلک له دندی څخه لیری او په بشپړ شعوری پوها وی سره غلو او مفسد و اشخاصو اویا حلقو ته لاره اواره کړل چی دغه غله او سا رقین له پخوا څخه لاپسی قوی او شتمن شی اود **حا مد** (کرزي ) په څیر د متحده ایالاتو د (سی آی ای) لخوا نصب شوی شتمن څخه ملاتړ وشي، تر هغه چي د رای ورکونکو د راي د پیرودلو په برخه کي په پراخه کچه درغلی یا تقلب ترسره شي ، امریکا یي مقا ما ت د آزاد با زار اصولو ته متعصب پا بندي لري چي دا باید توضیح شي چي ولي سره د (ښه اهدافو ) هغوي په پوره پوها وي سره اقتصادی ، سیا ستونه تحمیل کړلي یا الزامی کړلي چي خا رجي پا نګوالي شتمن کړي او په هیواد کي بی وزلي ته لمن ووهي ددی پر ځای چي دنوموړي پا لیسیو د پلی کولو پر ځا ی دافغا نستا سره مرسته کړلی وایی ، اما امریکا یي چا رواکو دوی د سرمایه داری لپا ره نا موافق ګڼل .

دا د **ما یکل پرا نتي** (Michael Parenti) څیړنې د متحده ایالاتو د با ند نی پا لیسی ( **توره اوډالر**)سره مطا بقت لري کوم چي **پرانتی** پخپل څیړنه کی وموند ل او هغه داچي د(دیموکراسي ) اود (فساد ضد) لپا ره د متحده ایالاتو ژمني (پرته له دی چی ترسره کړل شي ) په آسا نی سره څنډ ی ( کوم چي بي پروایی توب را ښیی) ته پریښودل کیږی ، په داسی حا ل کي چی د ا فغا نستا ن په څیر هیوا دونو کي چي هلته خا رجي پا نګوني اودآزاد با زار را مینځته کول نا شونی دي تعهد اوژمني کیږي یا د پانګونی لپا ره د ژمنی دروازی را خلاصوي ، او هم هغه څه چی دامریکي متحده ایالات د باند نیو چا رود وزارت په لست کي ا فغا نستا ن د تروریست دملاتړ کونکي په صفت نه داخلوی یعنی له دی څخه ا متناع کوی چی ا فغا نستا ن د تروورستا نو ملاتړکونکي وګڼي سره له دی چي په بشپړاګاهی سره په دی هم پوهید لي چي طا لبا نو **بن لادن** ته پنا ه ورکړي ، ددی حقیقت څخه علاوه چي دابه د متحده ایالاتود تیلواود سا ختما نی شرکتونو

*ورننوتل ا فغا نستا ن ته به خنډ شی کوم چي دوی غوارې چی د کابل سره په موافقه کي د تيل اود ګا ز دکرښو لولي ( پايپ لينونه ) د مرکزی آسيا له سا حي څخه وغځوی ؟*
*د متحده ايالاتو دنظامی اډو سمد ستي جوړول اوپه پا يله کي خصوص سوداګری ته رونق ورکول اوپه نهای پا يله کي دهغو لپا ره خدمت کول ددی موجب ګرځی چی دامريکي نظامی صنعتی شرکتونه زيا ت سود تر لاسه کړي او بيا هغوی د دی ا مريکا يی شرکتونو لپا ره د ساتونکي به بڼه دندی ترسره کړي چی دغه شرکتونه د ا فغا نستا ن معد نی شتمنی د کيند لواود لوټولو لاس رسی پيداکړي دا پرا فغا نستا ن باندی دحملی او اشغال هغه اوږد مهال نقشه او پلان وه چي با يد دا فغا نستا ن له د ننه اود له باندی پولو څخه تر يرغل لاندی راوړل شي چی دا د **بوش** داداری هغه د کترين وه کوم چی د **( اوبا ما )** په دوران او هم لا اوس د **دونا لد ترامپ** داداری له خوا مخ ته وړل کيږی چی د دی د کترين محتوی دا سی دي :[ واقعی آ زادي په معنی دآزاد تجا رت دي اودا پخپله يو « اخلاقی ا صل » دي چی که چيری تا سوته څوک ارزش ورکړی نوتا سی بايد وتوانيږي چی دغه جوړونکي ، جد ی اومنطقی توضيحا ت پر افغا نستا ن با ند ي د يرغل اودهغه درانيولو په مورد کي توضيح اوتشريح کړی ] .*

*واشنګټن پوسټ د افغا نستا ن مقا لی او د اسنا د و سپړنه اود لوستلو ا رزښت لري ، مګر دا يو متضا د د خند ا وړموضوع هم ده چي ډيری تحليلونه لري او د ورکيدو په واسطه دروغ دي. د ا فغا نستا ن د جګړې غند نه دا نه ده چي امريکا د " نه منلو وړ" جګړې ته ننوتلې ا و اوږده کړې ؛ قضيه يا داستا ن دا ده چي د متحده ايالاتو د ميراتوری يرغل د نړيوا ل قا نون څخه سرغړونه جنګي جنا يت دی ، او پرا فغا نا نويې دغه امپراطوري تا وتريخوا لی اړولی دی ، اودا به ديوفا سد کړنې په بڼه پا تې شي حتی که متحده ايالاتو خپل ټول واضح اهداف هم ترلاسه کړي. حتی لکه څنګه چې د پوسټ مبصرين د متحده ايالاتو چارواکي دروغجن ګڼی- او د دوی دايډيولوژيک چوکاټ په منلو سره خطر په ګوته کوي — ځکه چې دوی د دې چا رواکو بيا ن با ندې خورا ډير تکيه کوي ، د ا فغا نستا ن مقا لې د بهرنيا نولپاره لا هم د امپراتوری ښې ارادې زوړ استعما ري فلسفه خپروي.*

**------------------------------------------ په سلامونو «2020-01-07 »**